# د خوشحال خان خټک فارسي شاعري

## Persian Poetry of Khushal Khan Khatak

Dr.Ali Kumal Qazlbash ♣

**Abstract**:

In this paper, the scholar has carried out investigation of the Persian poetry of Khushal Khan Khattak (1613-1689) the great Pashtoon classical Poet, thinker, scholar, warrior and leader. Due to his abundant and land marking poetry in Pashto, the Persian poetry of Khushal Khan Khattak is always overshadowed. In this paper, we can see a comparative analysis of the Khushal Khan Khattak with other classical poets of Persian language. The writer has segregated the borrowed and original thoughts of the great classical poet Khushal Khan. Analysis of his message is carried with the support of cross referencing and validation.

خوشحال خان خټك د پښتو ژبي هغه ستر شاعردی چی هم په فکري حواله او هم په فني حواله د پښتو هیڅ یو شاعر د دۀ و مقام ته نشي رسېدلی.دې نابغه عصر په خپل فن او فکر داسې ملغلري د ادب و لمن ته سپارلی دی چی د انسانی شعور جهان به همېشه ور باندې ویاړي .

د ده شاعري نۀ صرف دا چې د پښتو ژبي ده پراخوالي دلیل جوړېږي بلکه ددې ژبي د وقار او عزت ضمانت هم ده.خو له بد مرغی نۀ تر اوسه پښتنو دده مقام و پېژندو او نۀ یې نورو ملتونو ته معرفی کړ.ده څو سیاسی اهدافو د حصول علاوه خوشحال د چا په کار نۀ شو چی ددی ستر انسان د حق د بی ځایه کېدو علاوه څۀ بله معنی نۀ ترې شندل کېږی.

دده دښایست ګلونه بې کچه ډېر دي چې یوارخ یې د پښتو علاوه په فارسي ژبه هم شعر ویل دی، چی دلته به زمونږ د بحث موضوع وی .

---

♣ Assistant Professor, Allama Iqbal Open University Islamabad
Dr_kumail@yahoo.com

خوشحال خان ختک د خپل د وخت له ټولو علومو سره اشنا وو، چې هغه وخت په فارسي او عربي ژبو کښې وو .دۀ پخپله شاعري کښې له فارسي ژبي او ادب نه زياته استفاده کړې ده .د دۀ شاعري د دې ژبو بالخصوص له فارسي نه ډېر زيات اثر اخستی دی .د دۀ په پښتو شاعري کښې زيات داسې اشعار شته چه هغه په فکري يا فني اړخ کاملاً له فارسي نه متاثره دي.خو داسې نۀ ده چې خوشحال دې خپل فکر و کمال نۀ و لرې بلکه دا هغه ستر هنرمند دی چی پښتويې تر فارسی ده رسولی.

زۀ خوشحال پښتون چې په پښتو فارسي کښې طاق يم
لا مې په پښتو ژبه کښې ژبه درغليږي(1)

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبيه کښې
پښت ويل مې عين تر فارسي دي رسولي(2)

که تازي ژبه هر ګوره ښۀ ده
فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده(3)

چې خوشحال ختك يې وائي په پښتو ژبه خبرې
په فارسي ژبه به نۀ وي که پوهيږې سخن هسي(4)

هسی هم هغه وخت که چا د علم تنده لرله نو د فارسی د زده کړې علاوه به بله لاره ورسره نۀ وه، نو څنګه کېدی شی چی د خوشحال غوندې کس دې له دې عظمته محروم پاتې شي .

د خوشحال خان د فارسی شاعری له مطالعې نه دا خبره څرګندېږي چې په هغۀ کښې د ايران کلتور او هنر ټول اړخونه او ورسره فلسفه،اخلاق، عرفان او ادب ټول د اب و تاب سره ښکاري .خوشحال په فارسي کښې د سعدي او حافظ د مترنمې لهجې نه زيات اثر اخستی دی .(5)

او د خوشحال د فارسي شاعري په حقله د مېرمن ګويا اعتمادي نظر دا دی چې: د دۀ په دري شاعري کښې داسې قابل ذکر نوی والی نشته خو د دې باوجود چې د دۀ شاعري د ښايست باعث ګرځي هغه د دۀ د شاعري موسيقيت، خوږلت، رواني او دساده او ښائسته تورو انتخاب چې د دۀ و کلام ته يې خصوصيت بخښلی دی. د تورو په انتخاب کښې د

سبک عراقي د شاعرانو هم سبک دی او ورسره د عشق له موضوعاتو ډکه شاعري ده".(6)

د خوشحال خان د فارسي سره نۀ صرف د شاعري تر حده تړون وو بلکه هغه له فارسي نه تراجم هم کړي دي او په فارسي ژبه يي کتابونه هم ليکلي دي .او دا هم چې د هغۀ په څۀ نثري کتابونو د فارسي اثرات ډېر لېدل کېږي.

نام حق: .دا د خوشحال بابا هغه کتاب دی چې دۀ له فارسي نه په پښتو ژباړلی دی. دا فارسي کتاب په افغانستان، پاکستان او ماورالنهراو د هند په سيمو کښې د پنج کتاب په نامه معروفه دی.

اخلاق نامه:.خوشحال خان د حسېن واعظ کا شفي کتاب اخلاق محسني، هم په پښتو ژباړلی دی.د دې کتاب ١٧ بابونه د پخپله ژباړلي وو او د باقي کتاب ژباړه يې خپلو زامنو ته سپارلې وه.

**فارسي بازنامه**: خان د نظم تر څنګه په دري ژبه نثر هم ليکلی دی او يوه منثوره رساله يې په دې ورستي ورځو کښې کشف سوه. د خوشحال خان په پښتو بازنامه کښې يو بيت راغلی دی.

په فاسي مې بازنامه د نثر کښلی
په پښتو مې ورته وکښه نظم کښلی

څنګه چې خان بازنامه په ١٠٨٥ کښې بشپړه کړې ده نو داسې ښکاري چې دا دري بازنامه يې تر پښتوهغې يې در مخه ليکلې وي(7)

خوشحال خان لکه چې ذکر وشو چې د فارسي د شاعرانو نه يې هم په پښتو او هم په فارسي کښې اثر اخستی دی. د مولانا جلال الدين رومي د جهاني اثرمثنوي د ابتدايي دو شعرونو پښتو رنګ د قدر وړ دی چې :

بشنو از نی چون حکايت ميکند
از جدائي ها شکايت مي کند

سينه خواهم شرح شرح از فراق
تا بگويم شرح درد اشتياق(8)

اوس به هم دغه فرياد د خوشحال به ژبه و اورو چه وائي:

ګوره پري غوږ کړه شپېلۍ څۀ وائي

کـــوره پـــري غـــوږ کـــړه شـــپېلۍ څه وائـــي
بېلتـــون پـــرې ورغـــۍ هـــر ګـــوره ښـــه وائـــي

ســـينه يـــې ګـــوره څـــو ځايـــه شـــوې ده
راز د فـــراق کـــا نـــور هـــيڅ نـــۀ وائـــي(9)

حافظ شيرازي پخپل يو شعر کښې وائي:

نصـــاب حســـن در حـــد کمـــال اســـت
زکـــاتم ده کـــه مســـکين و فقيـــرم(10)

دغـه معنـى د خوشـحال پـه دې شـعر کښـې ښـخـي و اصـل تـه ورتـه وينـو چې وائي:

زۀ خوشـحال کـه لـه تـا خواسـت کـړم مسـتحق يـم
خولـۀ زکـواة راکـړه د حســن لــه نصــابه(11)

دغـه ډول د شـيخ سـعدي د تعليمـاتو اثـرات هـم د خوشـحال پـه ليکنـو کښـې لېـدل کېـږي چـې زيـاتره د "ګلسـتان" دي .دلتـه دايـو شـعر وګـورئ. سعدي وائي:

ديـــوان بـــاش تـــا غـــم تـــو ديگـــران خورنـــد
کـــانرا کـــه عقـــل بـــيش غـــم رزوگـــار بـــيش(12)

خوشحال خان بعينه دغه معنو ته د پښتو لباس ور کړى دى او وائي:

راشــه لېــونى شــه چــې نــور خلــق دي غمخــور شــي
څــو چــې هوښــياري کــړې غــم بــه لادربانــدې زور شــي(13)

دغــه ډول د فارســي د نــورو شــاعرانو لکــه: ســنايي، نظــامي، خيــام، عرفــي شــېرازي، اميــر خســرو وغيــره ســره هــم فکــري تــړون لــري. حتــىٰ د فارسـي د اولينـي ښـځينه شـاعره "رابعـه خضـداري نـه يـې هـم اسـتفاده کـړې ده. رابعه وائي:

تـــو ســـنى کـــردم ندانســـتم همـــى
کـــز کشـــيدن تنـــگ تـــر گـــردد کمـــن(14)

خوشحال دا شعر د ترجمی تر حده پښتو ته اړولی دی .وائي:

مــــا بـــی دوده تـــو ســـنی کـــړه منجېـــدلم
عاقبـــت يـــې پـــه کمنـــدو ځکېـــړلم(15)

د خوشـحال پـه پښتوشـاعري کښـې د فارسـي هغـه تـوري هـم شـته چې پـه پښـتوکي مسـتعمل نـهٔ دي. لکـه خـاك، پـول، شـما ، روسـتايي، شـام، وام، ريســمان، رايگــان، چيســتا ن، شــيون، دشــنام، همــان، شصــت، نکبــت، سبد ، زدودن، کد خدا ، واژ گونه وغيره.

د نعـيم تقـوي دا نظـر دی چـې کـه خوشـحال خـان و فارسـي شـاعري تـه هـم مکملـه توجـه ورکړي وای نـو پـه يقـين سره ويلـی شـي چـه نـن بـه د فارسـي په معروفه شعرا کښې شمېرل کېدۀ "(16)

د نعــيم تقــوي لــه دې خبــري ســره زمــا هــم اتفــاق دی چــې کــه دې ســتر شـاعر و فارسـي تـه هـم توجـه ورکړې وای نـو نـن بـه وضـع څـهٔ بلـه وه. بهـر حـال و بــه گــورو چــې خوشــحال پخپلــه فارســي شــاعري کښــې کــوم موضــوعات پــه څهٔ رنگ څېړلي دي .

دا خبــره ښولــو تــه خرگنــده ده چــې دې ســتر انســان همېشــه پــه همــت او ځــوانمردي ژونــد کــړی دی . دا نکتــه يــې پــه فارســي شــاعري کښــې هــم ښکاره ده. لکه چې وائي:

بــرون بــر ائبــين کــه جهــان بــر تــو تنــگ نيســت
تـــا کـــی درون گوشـــه ئـــی خلـــوت غنـــوده ای

عفـــو خـــدا ز جـــرم مـــن و تـــو زيـــادت اســـت
لاتقنطـــوا زايـــت قـــران شـــنوده ای(17)

دغــه ډول د دهٔ پــه نظــر کښــې د مړانــې هــم يــو ســتر معيــار وو او بــلا مبالغــه د دا معيــار د حضــرت علــي پــه شخصــيت کښــې ليــدهٔ. لکــه پــه دې بيت کښې چې وائي:

راســـتی را پيشـــه کـــن و انگـــه دم مـــردی بـــزن
مـــرد گـــر مـــی بـــود درعـــالم چـــو شـــاه خبيـــر(18)

همت او مردانګي د خوشحال په نزد اصل کاردی هغه هیڅ وقت د طمعې د لاس د غزولو په حق کښې نهٔ وو:

من غلام همت ان کو طمع را سد ببست
ګرچه نان جو ندارد جان من اسکندر است(19)

یا دا بیت چې وائي:

شیوه ئی جود و کرم هر کس که دارد حاتم است
انکه نستاند، نخواهد او زحاتم بهتر است(20)

یعنې دی د ځوانمردۍ د پاره جود و سخا هم یو بنیادي نکته شمېري.

د ځوانمردۍ په حقله د خپلي خوښي مرغه، باز مثال هم په ډېر ښایست وړاندې کوي او وائي:

شاهباز است که مر ساعد شه را شاید
ګرچه بیهوده بهر ګوشه پرید این دل من(21)

بر فراز نه فلك پرواز ماست
باس تا شهباز ما پروا کن(22)

باز د دي ادبي شاهباز د خوښې مرغه دی. په پښتو کښې د هغهٔ په حقله د دهٔ ډېر شعرونه شته خو په فارسي کښې یې هم نهٔ دی هېر کړی. لکه چې وائي:

شاه مرغان شکاری باز است
انکه محبوب شماری باز است

انکه بر دست شهان دارد جای
بو العجب صنعت باری باز است

دل به مرغان هوا نسپاری
ای پسر ګر به سپاری باز است(23)

خوشحال خان د فارسي د سترو شعراو په شان هېڅ کله شېخ، واعظ او ملا ته په ښه سترګه نۀ دي کتلي او همېشه دعشق په شور کښې خوشحاله دی او د مېکدي سره روغه لري.لکه چې فرمايي:

ما را چو دل بعشق نګارينه شد ګرو
ای ناصح! اين چه درد سری می دهی برو
ما مست ساغر می عشقيم پيش ما
اين وعظ و اين نصيحت عالم به نيم جو (24)

او د دې شعرونو ښکلا هم د کتو ده:

باوجود وسعت کام و دل و جمع بتان
زاهد و افسرده دل، درکنج تهائی غنود

ما زيان عاشقی بګزيد زاهد سود زؤد
ان زيان را دوست می دارم ازين بيهوده سود (25)

عاشقی چيست غم و درد و بلا را بودن
سالها شد که ز روی تو کشيد اين دل ما (26)

ما د خوشحال د پشتو شاعري پحقله ليکلي وو چې دی په اصل کښې د عشق د جهان سړی وو او په شاعري کښې يې هم دغه رنګ ډېر ښکاره دی. په دې حواله يې څو فارسي شعرونه هم وګورئ .

به پيش قامت دلجوئی و پيش زلف شبرنګت
نګارينا درخت سرو سنبل را چه ياد ارم (27)

د معشوق د حسن ددې ښکلي تعريف پس دا شعرونه هم د صفت وړ دي.

لبت مسيح صفت مرده را روان بخشد
عجب طبيب طبيعت شناس هر خويست

اګرچه تير عدو جانستان بود خوشحال
مرا خدنګ بلا ان دو چشم جادويست (28)

خوشحال خان په فارسی کی د غزل سره قصيده او رباعيات هم ليکلي دي. يوه قصيده چې ۲۶ بيته لري هم د فن له لحاظه او هم د تفکر او محتویٰ له لحاظه د ستاينې وړ ده ؛ چې په دا مطلع يې اغاز شوی دی.

چشم ظاهر بین مردم مردم چشم سر است
چشم ظاهر بین مردم مردم چشم سر است(29)

دا قصیده امیر خسرو دهلوي «قصیده بحر الابرار»، جامي هروي قصیده ي «لجة الاسرار» امیر علي شیر نوائي قصیده ي «تحفة الافکار» و کلیم کاشاني قصیده «نسایم الاسحار» و ابوالمعاني بیدل قصیده «سودا و الاعظم» په بحراو وزن کښې ویل شوې ده"(30)

او څو غزلې خوشحال د فارسي د معروفه شاعرانو په مزکه ویلي دي چې دلته د هغه شعرا شعرونو د مثالونو په توګه وړاندې کوو چې د خوشحال د بحر د حق ادا کولو دلیل هم ثرګند شي.د خوشحال دا غزل چې:

هر که در کوچه ئی ان ماه مکانی دارد
کفر محض است اگر میل جنانی دارد (31)

په وزن کښې دۀ د لسان الغیب شیراز چې وائي:

شاهد ان نیست که موی و میانی دارد
بنده ئ طلعتی ان باش که انی دارد (32)

سعدي هم په دغه بحرکي غزل لري او وائي:

ان شکر خنده که پرنوش دهانی دارد
نه دل من که دل خلق جهانی دارد (33)

د حافظ غزل ده چې

ما زیاران چشم یاری داشتیم
خود غلط بود انچه می پنداشتیم(34)

په دغه بحر کښې خوشحال غزل په دا مطلع په دا ډول اغاز کړې ده چې:

چون نظر بر خال خوبان داشتیم
تخم غم را در دل خود کاشتیم(35)

اودا غزل چې خوشحال خان به دا مطلع اغاز کرې ده او ډېره خوږه غزل هم ده:

نوبهارو می و معشوقه و جام است اینجا
زۀد و پرهیز و ورع را چه مقام است اینجا (36)

به وزن ا و بحرکښې ده چې جامي دا غزل پکښې ویلې ده.

طـرف بـاغ و لـب جـوی و لـب بـام اسـت اینجـا
سـاقیا خیـز کـه پرهیـز حـرام اسـت اینجـا (37)

په دغه بحرکښې فیضي هم داغزل ویلې ده:

ایـن چـه مستی است کـه بـی بـاده و جـام است اینجـا
بـاده گـر خـام بنوشـیم حـرام اسـت اینجـا (38)

د خوشحال بابا یوه ډېره خوږه غزل ده چې په دې لنډ بحر کښې ده.او مطلع يې دا ده:

بـه خـط نـو رسـید ان نـور سـپده
بـه قتـل عاشـق خـط بر کشـیده (39)

په دا بحر کښې نظیر نیشابوري، عرفي شیرازي علاوه خاتم الشعرای دبستان هند واقف بټالوي، دوه غزلې لري چې د یوۀ مطلعه دا ده:

مگـر گـل شـب تـرا در خـواب دیـده
کـه پـیش از صـبح پیـراهن دریـده (40)

خوشحال خان خټک ملمع غزلې هم لري چې په هغو کښې يې له فارسي ا و پښتو دواړو ژبو نه استفاده کړې ده چې پخپل ځاي د قادر الکلامي مثال دی:

تـا ویـل قنـد و نبـات و شـهد یکجـا دیـده ئـی
اری اری ان دهـان و ان لبـان و ان ویـل (41)

گمـان مبـر کـه بگـردد زعشـق تـو خوشـحال
چـرا کـه بـر رخ خـوب تـو ډیـر شـیدا دی (42)

د ډاکټر جاوید په وینا: شاعر (خوشحال) کامیاب شوی دی چې د معني وکمال ته د تورو په جمال استادانه پېوند او شایست وبخښي او اعلیٰ ترین انساني احساسات د سبک عراقي په فصیح او دلپذیر قالب کښې ځاي کړي". (43)

لکه دا شعرونه:

کــوهی اگـــر زمانـــه فرســـتد هـــزار غـــم
از غــم چــه غــم چــو رطــل گــران را بیافریــد (44)

روهیـــا یوســف عهــد اســت نگـــار تــو ولـــی
نیســـــت اگـــــه ز درد دل یعقـــــوبی تـــــو (45)
بـــا داغ دل چـــو لالـــه دریـــن بـــاغ زده یـــم
از ماست هــر کــه زاویــه درخــون کنــد کســی (46)

اوس بــه راشــو د خوشــحا ل د فارســي شــاعري و دې خــوا تــه چــې دا قادرکلام شاعر ادبي صنعتونه څنګه په کار را وستي دي .

تلمیـح د شـاعر د قـادر کلامـي سـره د هغـۀ د مطـالعي د وسـعت دلیـل هم وي .د ا شعرونه وګورئ:

ادم صـــــفت ز روضـــــه رضـــــوان بدرشـــــوم
مـــارا اگـــر ز کـــوی تـــو بیـــرون کنـــد کســـی (47)

مـــــن مگـــــر از حـــــال خـــــود اگـــــاه نـــــیم
شـــیخ صـــنعان را ز دیـــن بیـــزار کـــرد (48)

د قرآنـي ايـاتو نـه يـي هـم اقتبـاس کـړی دی چـې د شـاعر د عربـي سـره د اشنايي دليل دی.

عفــو خــدا ز جــرم مــن و تــو زيــادت اســت
لاتقنطـــوا ز ايـــت قـــران شـــنيده ای (49)

تجنيس يا جناس:

چشــم ظــاهر بــين مــردم مــردم چشــم ســر اســت
عــاقلان را در درون چشــم چشــم ديگــر اســت (50)

مراعات النظير يا تناسب:

چـــو روهـــی در حـــديث ايـــد نبـــات و شـــکر
درانــدم طــوطی خوشــگوی و بلبــل را چــه يــاد ارم (51)

حسن تعلیل:

سـرو درباغ سـر افکنـده از انسـت کـه او
قامت راست ترا دیده و خوش اسلوبی تو(52)

طباق یا تضاد:

مشـک سـلطان اسـت و مـن درویـش او
مهر شاهان هان بدرویشان خوش است(53)

ارسال المثل:

بـاران دیـده را بـه تـردد همـی دهـم
خلقی بگشت باغ و مرا پای درگل است(54)

تکرار و تصدیر:

قیمـت گـوهر نمـی دانـد مگـر گـوهر شـناس
از زبان مرد صاحبدل سخن چون گوهر است(55)

تضاد:

از غم و غصه هر ناکس و کس هیچ نشد
هست از اهن و فولاد پدید ان دل من(56)

ایهام:

شاه من تند بران رخش که بس مردم شهر
بهر نظاره ئی تو بر در و بام است اینجا (57)

لف و نشر

دلـم ربـوده ان زلـف و خـال و ابرویسـت
چه خوش هلال چه خوش دام و دانه دلجویست(58)

خوشحال خان په پښتو کي «خوشحال» تخلص کوي خو په فارسي کښې «خوشحال» «کوهي» او «روهي» درې سره توري د تخلص په توګه کاروي. مثالونه وړاندې کوم.

چـرا خوشـحال را پرسـی کـه چـونی
مگـر از چهـره ئـی او مبـرهن نیسـت(59)

بکوی او که ره دارند روهی
زخیل ان سگان بودی چه بودی(60)

قتل کوهی را به تیغ غمزهٔ خواهد ان نگار
کاش باشد این کرم ای دوستان را نشوخ رود (61)

خوشحال په فارسي ژبه د خپلې کورنۍ د افرادو ولادت او د وفات تاریخونه هم د شعر په صورت کښې راوستي دي.یوه نمونه قطعه ولادت د اشرف خان هجري ده چې :

به زاو یاي مه روزهٔ پاس اول شب
بزاد اشرف و اندر کنار دایه بخفت

چو بود وقت بهار و شگفتن گلها
حساب سال وي امد بهار «اهل شگفت»(62)

دا وو د ستر خوشحال د فارسي شاعري یوه اجمالي څېړنه چې د دهٔ د قادرالکلامي دلیل ګرځي .هم هغه د پښتو مصرعه چې ځولۍ مې تنګه.

***

# حوالې


(1) ارمغان خوشحال، ۶۵
(2) همدغه اثر، ص ۷۸
(3) همدغه اثر، ص ۱۷۴
(4) همدغه اثر، ۶۵
(5) خوشحال نامه، «خوشحال کښې فارسي شاعري»، ص ۵۹)
(6) تنگیالی پشتون، اشعار دري خوشحال، ازخانم گویا اعتمادي، ص 27
(7) ننگیالی د زماني، ص۲۰۹
(8) مثنوي معنوي، ج۱، ص۱۹
(9) ننگیالی د زماني، ص۲۰۵
(10) دیوان حافظ، ص ۲۱۵
(11) ارمغان خوشحال، ص ۳۳۴
12) کلیات سعدي، ص۳۳۵
(13) ارمغان خوشحال، ص ۱۱۷
(14) بلوچستان مین فارسي شاعري، ص ۲۶
(15) ارمغان خوشحال، ص ۴۵۵
(16) پشتو کا عظیم شاعر خوشحال خان ختك، ص ۹۱
(17) د خوشحال ختك کلیات، ج،۱،ص۵۱۹
(18) همدغه اثر،ص۵۰۹
(19) همدغه اثر،ص۵۰۸
(20) همدغه اثر، ۵۰۸
(21) ارمغان خوشحال، ص ۷۹۴
(22) همدغه اثر،ص۷۹۴
(23) همدغه اثر،ص۷۸۸
(24) همدغه اثر،ص۷۹۴
(25) همدغه اثر،ص۵۱۲

(26) سراب، خوشحال کښې فارسي شاعر، از نجم الرشید، ص ۷۱
(27) د خوشحال ختك کلیات، ج ۱، ص ۵۲۲
(28) ارمغان خوشحال، ص ۷۸۸
(29) همدغه اثر، ص ۷۹۲
(30) ننګیالی د زماني، ص ۲۴۶
(31) د خوشحال ختك کلیات، ج ۱، ص ۵۰۸
(32) دیوان حافظ، ص ۸۳
(33) کلیات سعدي، ص ۲۳۹
(34) دیوان حافظ، ص ۲۳۹
(35) د خوشحال ختك کلیات، ج ۱، ص ۵۱۷
(36) همدغه اثر، ص ۵۱۷
(37) دیوان جامي، ج ۱ ص ۲۳۳
(38) کلیات فیضي، ص ۱۷۸
(39) د خوشحال ختك کلیات، ج ۱، ص ۵۱۹
(40) دیوان واقف، ص ۷۱۲
(41) د خوشحال ختك کلیات، ج ۱، ص ۵۲۶
(42) همدغه اثر، ص ۵۲۸
(43) نګاهي بر اشعار دري خوشحال خان، ص ۱۵
(44) د خوشحال ختك کلیات، ج ۱، ص ۵۱۱
(45) همدغه اثر، ص ۵۱۱
(46) همدغه اثر، ص ۵۱۱
(47) ارمغان خوشحال، ص ۷۸۹
(48) د خوشحال ختك کلیات، ج ۱، ص ۵۱۹
(49) ارمغان خوشحال، ص ۷۹۲
(50) همدغه اثر، ص ۷۹۲
(51) همدغه اثر، ص ۷۹۳
(52) همدغه اثر، ص ۷۹۴
(53) در کوچه ی ماه، ص ۶۳

(54) همدغه اثر،ص۶۵
(55) ارمغان خوشحال،ص۷۹۴
(56) همدغه اثر،ص۷۸۶
(57) در کوچه ی ماه،ص۵۷
(58) همدغه اثر،ص۷۰
(59) ارمغان خوشحال،ص۷۹۴
(60) همدغه اثر،ص۷۹۰
(61) در کوچه ی ماه،ص۱۳۱
(62) تاریخ مرصع، ص ۲۹۹